# پښتو فولکلور ته د پروفیسر داورخان داؤد ونډه

# CONTRIBUTION OF PROFESSOR DAWAR KHAN DAUD TO PASHTO FOLKLORE

Zar Muhammad Sangar*

**ABSTRACT**:

Prof. Dawar khan Daud (1940-2018) is well known contemporary literary figure of Pashto literature. Being a scholar of Pashto, Urdu, English and Persian, he has added much to Pashto literature. Pashto Folklore, research, criticism, translation and literary journalism are the fields in which his expertise is worth mentioning. His role in this regard is vital and fundamental. He is not only known for being a prolific author but also for his highly important contributions to folklore. He has written several books on Pashto folklore. He is the most distinguished name in Pashto folklore and is very highly regarded.

**Key Words:** Pashto literature, prolific author,folklore

د پښتو ادبیاتو د تاریخ په حواله د شلمې صدۍ د اهمیت نه انکار ممکن نه دے. په دې صدۍ کښې که یو خوا نوي موضوعات او اصناف پښتو ادب ته راننوتل شورو شول نو بل خوا د څېړنې، پلټنې او تنقید باقاعده ابتدا ء هم وشوه. په دې مد کښې ډېر اهم ادبي وګړي په پښتو ادب په دغه دور کښې پېرزو کول هم د الله یو خصوصي مهرباني وه. ددغو وګړیو په نزدې شاګردانو او اخلافو کښې یوه اهمه نامه د اروابناد پروفېسر داورخان داود هم وه. موصوف د کال ۱۹۵۲ء نه تر وفاته مسلسل د پښتو ادب په خدمت کښې بوخت پاتې شوے دے. هغه د یو شاعر نه پرته د یو دانشور ، نقاد، څېړنکار، مترجم، صحافي، مبصر او تجزیه کار په حېث هم پښتو ادب کښې منلے او پېژندلے شي.د هغۀ د خوښې تر ټولو اهم مېدان فولکلور دے. تحقیق او تنقیدکښې د هغۀ ګاللے زیار پښتو ادب کښې د معیار او سند له مخه د حوالې حېثیت لري . هغۀ پښتو ادب د پاره په انګرېزۍ او اردو ژبه کښې هم ډېر زیار وېستے دے. د پښتو ژبې د تدریس په حواله هم د هغۀ علمي هڅې د چا نه پټې نه دي . په اردو ، انګرېزۍ او فارسۍ ژبه د پوهې او دسترس له کبله هغۀ د پښتو ادب په وده او خصمانه کښې یو کلیدي کردار لوبولے دے. په ادبي صحافت کښې هم د

---

* Lecturer in Pashto, Islamia College Peshawar.

هغۀ کردار بنيادي دے. هغۀ د خپل ژوند آخري څو کلونه د " تاترې " رسالې په اجراء کښې تېر کړي دي. د خپلو ادبي خدماتو په اعتراف کښې د علاقائي او عامو سندونو او اېوارډونو نه سېوا پروفېسر صېب ته په کال ۲۰۰۳ ء کښې د حسن کار کردګۍ صدارتي تمغه هم ورکړے شوې ده. خو په دې دومره ډېر ،اهم او بنيادي کار کښې چې هغۀ ته ئې په خپلو هم عصرو ليکوالو کښې يواوچت مقام بخښلے دے. داورخان داود په اولسي ادب ډېر کار کړے دے .

اولسي ادب د يو قام د ژوند هنداره وي . دې ته په انګرېزۍ کښې فولکلور په اردو کښې عوامي يا لوک ادب هم وئيلے شي. په دې کښې د يوې معاشرې د اوسېدونکو کړۀوړۀ ، جذبات ، احساسات ، رسمونه رواجونه ، خوراک څښاک ، کالي پټري ، جامه پېزار ، توهمات او نور ډېر څه موندے شي .

د فولکلور کلمې په وړومبي ځل د استعمال په حقله د انسائېکلوپيډيا امريکانه او برطانيکا په حواله پروفېسرداورخان داود ليکي." د فولکلور د ټولو وړومبے استعمالوُنکے انګرېز ليکوال(W.J.Thoms) دے . دۀ په خپل يو مضمون مطبوعه ۱۸۴۲ ء کښې چې د (Ambroise Merton) په قلمي نوم ليکلے وو . د ټولو نه اول د فولکلور کلمه استعمال کړې ده " ۱

(Folklore) انګرېزي مرکبه کلمه ده د" فوک" معنې خلق يا اولس او د" لور " معنې پوهه يا زده کړه ده. د عام اولس او وګړو پوهې او زده کړې ته فولکلور وئيلے شي.

''Folklore is a specific literature whose creature or auther is anonymous. That is why it is turned as impersonal or oral literature too and is considered to be the common inheritance Whole nation'' ۲

پروفېسر داورخان داود دپښتو ژبې د يو منلي شوي فولکلورپسټ په حېث د ژبې او ادب ډېر خدمت کړے دے . هغه که منظوم فولکلوري ادب دے او که منثور.د داور خان داؤد د شلو نه زيات کتابونه چاپ شوي دي چې اکثر په کښې د کالجونو ، يونيورسټيو او د مقابلې د امتحانونو د پاره منتخب کړے شوي دي . په دغو کتابونو کښې پنځه شپږ کتابونه خالص د پښتو فولکلور سره تعلق لري چې د ځنې کتابونو خلاصه او په هغې تنقيدي نظر وړاندې کولے شي .

**۱ : پښتو ټپه** :" پښتوټپه " نومې کتاب ئې په ۱۹۷۸ ء کښې چاپ شوے دے .دا يو نصابي کتاب دے چې د لسو ځلو نه زيات چاپ شوے دے . په کتاب حمزه شينواري ، ايوب صابر او عبدالکافي اديب ليکل کړي دي . د مخونو شمېر ئې ۱۸۳ دے . په اولسي شاعرۍ په کښې په زړۀ پورې بحث شوے دے . د اولسي ادب نوراصناف لکه بدله،لوبه ، نيمکۍ ، بګتۍ او په

چاربېته په کښې هم ليک شوے دے . په پښتو ټپه ئې د هرې زاويې نه خوندور ليک کړے دے .
د اولسي شاعرۍ په بابله ئې دا ښوجملې د لوستو دي . " اولسي شاعري د هر ملک او قام تهذيب وتمدن او ثقافت بنياد دے . په دې کښې د يو ملک يا د يو قام د وينې رنګ، د خاورې بوي، د مېږ خوند ، د ژبې خوږلت، د غرونو غرور، د دريابونو شور او زور، دمېدانونو، ډاګو او مېرو ښکلا، د چمنونو، باغونو او فصلونو تازګي، د پولو او لختو شينکے، د کرونده ګرو او مزدورانو د تندي خولې ، د ګودر د غاړې مستۍ، د سپوږمۍ او ستورو تماشې ، د زلمو او پېغلو د ځوانۍ پټ پټونې ، د بارانونواو طوفانونو موسيقي او د هوا نزاکت او ګډا شامل دي. يعنې دا د يو خاص شاعر ذاتي او انفرادي خيالات نه دي بلکې د ټول اولس د اجتماعي ژوند عکس دے ." ۳ ص۱۷
په دې کښې د پښتون قام اولسي او معاشي ژوند ډېر په ښکلي پېرايه کښې سره د حوالو( ټپو) وړاندې کړے شوے دے . حجره، جمات، ګودر، اباسين، د ازادۍ تحريک او پښتانۀ ، اسلام او پښتانۀ ، حسن وعشق ، طنزومزاح ، په ټپه کښې فصاحت او بلاغت ، متلونه ، محاورې ، منظرنګاري ، مکالمه او نور ډېر علمي ليکونه موندے شي .
په کتاب کښې خال خال تېروتنې هم شته چې يو دوه ته په کښې حمزه بابا اشاره کړې ده لکه

> " فاضل مصنف دوه شاعران توکل او ميرا د چاربېتو استاذان ليکلي دي . خو زما چې تر ښو معلومات دي دا داوړه صرف د غزل استاذان وو . د چاربېتې مشهور استاذان نورالدين او محمددين وغېره وو . "۴

> " د ټپې په وړومبۍ برخه کښې د زلمي توب په ځاے پېغلتوب ښۀ ښکاري " ۵

دغه شان د وادۀ په حقله ئې د وادۀ نه اګاهو د هلک جينۍ يو بل سره ملاقات او ليدل کتل ښۀ ګرځولي دي . چې حمزه بابا په دې هم نيوکه کړې ده چې نه په اسلام کښې ددې څه جواز شته او نه د پښتون د مزاج او تهذيب سره سمون خوري .په ځنې ځايونو کښې په کښې د املا غلطۍ هم شته او د جملو تکرار په کښې زيات دے . چرته چرته په کښې د مبالغې تر حده رسېدلے دے لکه " دا د وخت د تېرېدو سره سره ګامونه اخلي د ترقۍ په لور ګامونه اخلي . او خپله لمن د قيمتي ملغلرو نه ډکوي . کېدے شي چې شروع ئې د لسو اتو ټپو نه شوي وي . او بيا سؤونو ، زرګونو او اوس لکونو ، اربونو او کربونو ته رسېدلي دي ."۶
بهر کيف هر څۀ چې دي خو يوه خبره ضرور ده چې ډوډۍ ئې په انګرېزۍ ګټلې او بخښنې ئې پښتو ژبې او ادب ته کړې دي .ځکه ورته حمزه بابا ښۀ په خلاص مټ دا سرټيفيکېټ ورکړے دے

چې " ددې کتاب ليکونکے هم يو زلمے پروفېسر دے . داورخان داود او ددې کتاب ټوله مسوده زما د نظر نه تېره شوې ده . ځکه نو د ترديد د ويرې نه بغېر وايم چې په پښتو کښې تر اوسه داسې مختصر ولې جامع کتاب زما له نظره نۀ دے تېر شوے . " ۷

**پښتو ادب کښې متل** : دا کتاب په جنوري ۱۹۹۰ء کښې چاپ شوے دے. سريزه پرې داورخان داود پخپله د " خبرې د برې سر ئې يو " تر عنوان لاندې په ۱۹۸۸ء کښې ليکلې ده . د متل اهميت ، افاديت او تاريخي پس منظر ئې بيان کړے دے . د تحقيق او څېړنې اصول ئې هم ښودلي دي چې تحقيق حرف آخر نه دے که په دې حواله زما نه څه پاتې شوي وي نو پکار ده چې نور ليکوال او محققين دا کار تر سره کړي بلکې دا کار به جاري او روان وي . دا کتاب ئې د تحقيق د اصولو مطابق ليکلے دے تنقيدي آراء ئې پېش کړي دي په آخره کښې ئې کتابيات او اشاريه ئې هم ورکړې ده . د کتاب د چاپ کولو لويه وجه دا ښائي چې د پښتو ژبې او ادب طالبعلمان ددې فولکلوري صنف د اهميت نه خبر شي او دا صنف د تحقيق او څېړنې جوګه وګڼي . د پښتو ژبې او ادب په ارتقاء ئې هم خبره کړې ده .

> " ژبه د يو قام د شناخت او پېژندګلو يوه اهمه وسيله ده . دا صرف د يوې رابطې ذريعه نۀ شي بللے کېدے بلکې په دې کښې د يو قام د تهذيب ، تمدن او ثقافت واړه اقدار او آثار راغونډ او جمع وي . په دې حقله د اولسي ادب ( FOLKLORE ) ، محاورو ، اصطلاحاتو ، او متلونو ذکر کول هم ضروري او اهم ګڼلے شي . ژبه د قام د بقاء او ارتقاء ضامنه ده . په حقيقت کښې د ژبې ترقي د قام ترقي ده . يو قام تر هغه ترقي نه شي کولے تر څو چې ئې ژبې ترقي نه وي کړې ."۸

دا کتاب ټول په اتلس بابونو وېش دے . د متل د ابتداء په حقله د مغربي او مشرقي مفکرينو آراء ئې وړاندې کړې دي . د متل او محاورې تر مېنځه ئې فرق واضحه کړے دے . ځنې ټپې چې د متل په توګه استعمالېږي هغه ئې هم راوړې دي . دې سره سره ئې زمونږ د کلاسيک شاعرانو هغه شعرونه چې په هغې کښې د متل استعمال شوے دے د هغې ذکر ئې سره د مثالونو کړے دے . منظوم او منثور متلونه ئې جدا کړي دي . ځنې هغه متلونه چې د هغو ژبه غېر شائسته ده په هغو ئې د عالمانو او خپله رائې ورکړې ده . په متلونو کښې کلتوري اقدار ، اخلاقيات، طنزيه او مزاحيه متلونه ، د نېچر او فطرت په حقله ، د ځنو متلونو تشريح او پس منظر، او د کتاب وولسم او اتلسم باب چې د کتاب نچوړ دے په دې کښې د نورو ژبولکه د انګرېزۍ، اردو، فارسۍ،

عربي او هندکو متلونو سره ئې د پښتو متلونو تقابلي جاج اغستے دے او ډېر ښکلي مثالونه ئې ورکړي دي . د هغو کتابونو او ليکوالو ذکر ئې هم کړے دے کوم چې ددې کتاب ( پښتو ادب کښې متل ) نه مخکښې چاپ شوي دي . د " ناتراشه متلونه " په حواله ئې په مرزا جهان زېب نياز ډېره مناسبه نيوکه کړې ده خو چرته چرته ئې خپله هم تيندک خوړلے دے لکه دا منظوم متل

" چې په ښه مې نه راځي..... نامه ئې نه راځي"

داسې ليکلے چې " چې په ښه مې نه راځي ..... نوم ئې نه راځي "۹

د ټپې او متل په حقله ئې ښکلي ليکل کړي چې ټپه او متل ډېر شريک خصوصيات لري. متل د تجربې او ټپه د جذبې سره تعلق لري متل نثر او ټپه شعر دے ټپه او متل د يوې سبکې دوه مخونه دي . د متل د تاريخ او وړومبي کتاب په حواله ليکي " يورپي عالمانو په شريکه د حضرت سلېمان علېه السلام مشهور کتاب (کتاب الامثال) د متلونو وړومبے کتاب ګڼلے دے . دا کتاب د موجوده انجيل مقدس يو باب دے او په ۲۵۰ق م کښې ليکلے شوے دے ."۱۰

په پښتو ژبه کښې د متلونو ډېر کتابونه چاپ شوي دي په هره زمانه او هر دور کښې متلونه تخليق شوي دي د پښتو ژبې د ټولو نه زړې مجموعې په حقله ئې هم خپله رائے ښکاره کړې ده .

" پښتوکښې د متلونو د ټولو نه زړه مجموعه " روضته الامثال " ده . چې مولوي سيد احمد مرتب کړې ده."۱۱

"ټپه ايزه" چې پښتو ادب ته په روانه دهايۍ کښې د يو منلي شوي صنف په حېث راغلې ده . د سهېل خټک د " ټپه ايز" کتاب ذکر ئې کړے دے او د سعيد ګوهر د " متليزې " ذکر ئې سره د حوالو کړے دے. د سهېل خټک د ټپه ايزې په حقله ئې دا پېشن ګوئي کړې ده .

" خو ددۀ ددې جديد او ازاد نظم دا **FORM** د تقليد د پاره د يو معيار حېثيت نه شي لرلے . په هر حال دا يو ښۀ او غوره کوشش دے که هم دغسې جاري اوساتلے شو نو کېدے شي چې دا د جدت او انفراديت نمونه اوګرځي"۱۲

لنډه دا چې د متل په حواله د عربۍ ژبې دا مقوله چې " المثل في الکلام کالملح في الطعام "يعني په خبرو اترو کښې د متل راوړل داسې وي لکه په خوراک کښې مالګه . خو د مشرانو او پوهه خلقو د خلې هغه خبرې ، چې ساده، جامع، مؤثر، مختصر، مناسب، موزون، او بې تکلفه وي متل بللے شي. متل د يو قام د نفسياتو او اجتماعي ژوند هنداره وي.

**پښتو فولکلور کښې اړ:** دا کتاب داور خان داؤد د تحقيق او څېړنې د اصولو په ترخ کښې ليکلے دے. اړ د فولکلوري ادب يواهم صنف دے . د اړ لغوي ، اصطلاحي معنې ، ددې

تعریف او تشریح ئې کړې ده . د اړونو ابتداء او ارتقاء ، د هېئت او موضوع په لحاظ د اړ قسمونه ، ددې اهمیت او افادیت ئې په ګوته کړے دے . د لرې ، برې او سهېلي پښتونخوا اړونه ئې هم راغونډ کړي دي . دې سره ئې د څنې نور فولکلوري اصنافو لکه ټپه ، معمه او په متل هم خبره کړې ده . پښتو جدید ادب کښې اړ ، تقابلي مطالعه ، په اړ د شوي کار جاج ، د اړونو مجموعې ، ضمیمه ، کتابیات او اشاریه هم لیکلې ده .

" د فولکلور د نورو اصنافو په شان اړ هم د پښتو د اولسي ادب یو مشهور صنف دے چې اردو کښې ورته " پهېلي " او " بجهارت " فارسی کښې " چیستان " عربی کښې " لغز " انګرېزی کښې **RIDDLE** پنجابی کښې " بجهارتاں " او بلوچی کښې "چاچ "وئیلے شي .د برې پښتونخوا پښتانهٔ اړ ته " دوبې " ، دوړې او " کیسی " او د سویلي پښتونخوا اولس ورته هم " کیسی " وائي . د کوزې پښتونخوا د مختلفو سیمو خلق اړ ته نور هم نومونه اخلي لکه " دوړې " ، "دوبې " ،" سوګړې "، " ټکونه " ، " پړوکي " ، " کلتونکے " او داسې نور . خو "اړ " ددې ټولو نه زیات مستعمل ، مروج اوقابل فهم نوم دے ."۱۳

په اړ کښې خبره پېچ در پېچ ، چل ول او په رموز کښې کولے شي چې اورېدونکے پرې سوچ وکړي . په دې کښې د دماغو استعمال په ډېرې ښې طریقې سره کولے شي . په اړ کښې خبره په پټ انداز کښې د اشارو ، کنایو ، علامتونو ، خصوصیاتو ، استعاراتو او تشبیهاتو په ذریعه بیانېږي . په اړ کښې منظومې او منثورې قیصې هم بیانولے شي .

" اړ هغه بیان ، وېنا یا جملې ته وائي چې د یو څیز صفات او خصوصیات د یوې استعارې یا اشارې ( رمز ) په ذریعه بغېر د نوم اخستو نه ئې بیان شي او د اورېدونکي نه ئې د نوم پوښتنه وشي ، مثلاً: وړوکے تنورګے د پچو ډک ( انار )

سپین سپین ئې برېتونه ، بې شمېره ئې غاښونه ( وړے ) " ۱۴ څنګه چې زمونږ د ډېرو علمونو ابتداء د یونان نه شوې ده .ابوالهول دېوي چې د ښځې په شان سر، تنه لکه د زمري او لکه د مارغانو په شان وزرې ئې وې . هغې به خلقو ته اړونه کېښودل ، او چې چا به جواب ور نه کړو نو مړ به ئې کړو . قدیم یونان کښې به هغوئ خپل پېغام د اړ په ذریعه څرګندولو . ددنیا په اکثرو ادبیاتو کښې اړونه موندے شي .

داورخان داود د هېئت او اسلوب په لحاظ د اړ درې قسمونه ښودلي دي یعنې منثور اړونه ، منظوم اړونه او نیم منظوم اړونه .

منظوم اړونو کښې لکه د چاربېتې چستي او رواني وي لکه
چرګه د چرګوړو سره لاړه هندوستان ته ..... بیا را به شي مابنام ته (ستوري ، سپوږمۍ )
د لاندې ترې څرمن د پاسه غوښه زما وروره ....... د رب کارونه ګوره (شاتېنګه)
دلته د حوالې د پاره یو دوه منثور اړونه وړاندې کولې شي لکه
چې اوږے شي نو غاپي ، او چې څه ورواچوې نو غلے شي سپے نه دے وواېه دا څه دے ؟ (ګېډه)
زما یو شے دے ، په تبر نه ماتېږي (سورے)
د نیم منظوم اړونو نه هم یو دوه وړاندې کولے شي لکه
هلته لګي ، دلته لګي ....... سر ئې په کابل لګي (کوداله)
هغه دے لاړ ........ دادے راغے (نظر)
پخوا د تفریح ذریعې د نیشت برابر وې اولسي شاعرانو به مشاعرې او مقابلې کولې . دغه مقابلې به د سوال و جواب په شکل کښې کېدې .هغه هم اکثرپه ټپو او چاربېتو کښې . یو شاعر به د چاربېتې سر کېښودو ، بل به پرې د جواب په شکل کښې بند جوړ کړو . په دغو کښې به اړونه ، معمې ، فقهي ، علمي او شرعي مسئلې پوښتلے کېدې .
داور خان داود په ټېکسټ بک بورډ کښې هم کار کړے دے . دوئ د ماشومانو د پاره په درسي کتابونو کښې اړونه شامل کړي دي . دا په ماشوم کښې شوق ، حوصله ، جذبه او خود اعتمادي پېدا کوي. " اړونه د ماشومانو مختلفو درسي او تدریسي مهارتونو ( SKILLS ) ته وده ورکوي ، مثلا : غوږونه نیول ، خبرې کول ، قیاس کول ، سوچ و فکر کول ، پوهې نه کار اخېستل ، د یو سوال جواب وئیل او داسې نور . اړ د انسان تخیلي او فکري قوت ته وده ورکوي ، ځکه په تدریس کښې خاص طور د ماشومانو د پاره ددې نه فائده اخستلے شي " ۱۵
په اړ باندې تر اوسه پورې څه نا څه کار شوے دے ، خو نور کول پرې هم پکار ده چې وشي ځکه چې زمونږ په کلو بانډو ، حجرو او کورونو کښې داسې اړونه اوس هم وئیلے کېږي ، چې د لیک په شکل کښې نه دي خوندي شوي .
په دې کتاب چې ډاکټر فضل دین خټک سریزه لیکلې ده په هغې کښې د ځنې ځیزونو ستائنه شوې ده او په ځنو ئې نیوکه کړې ده . لکه که دا کتاب په نصاب کښې شامل شي نو ښه به وي . اړ د ماشوم د تعلیم او تر بیت د پاره ښکلې ذریعه ده . د انګرېزۍ د **Toung twister** په مقابله کښې د "ژب ماتې " تورے د مصنف له خوا مفیده اضافه ده .

داور خان داؤد د کتاب په حقله خپلو خبرو کښې ليکي چې " په دې لړ کښې چې څومره زما نه کېدے شوه . دومره مې د معلوماتو راغونډولو زيار کړلے دے "۱۲

زما په خيال داور خان داود دلته په لفظ " کاږل " او " کړل " کښې فرق نه دے کړے . "کاږل " د زيار باسل ، زيار کښل ، او د کوشش کولو په معنې راځي . او " کړل " له پامه بد راتلل ، له نظره بد راتلل ، بد او سپېرۀ ګڼل په معنو راځي .

په يو ځاے کښې ئې د " سوکړې " او " سوګړې " تر مېنځه فرق نه دے کړے . کېدے شي د کاتب غلطي وي خو د کاتب غلطي ځکه نه ښکاري چې په حواله کښې ئې دا ټپې هم ورکړي دي

" څوک چې د چا د چنې ګل شي........ مناسب نه دي چې سوکړه پرې تېروينه

خاونده ټوله مې ترې ځار کړې ......... سوکړو وهلي يار مې ډېر ژړلي دينه "۱۷

" سوکړه " د اوچ کالي ، توده ، اوچه او دشتې په معنې راځي . " سوګړې " د ټوقو وشتو ، ډوزو ، دوړو او دونو معنې ورکوي .

بهر کيف دا کتاب د پښتو ژبې او ادب د پاره يوه ګټه وره اضافه ده . ددې نه زمونږ استاذان ، شاګردان ، محققين او څېړنکاران ډېره استفاده کولے شي .

An English Translation of Some Selected Pashto Riddles

د داور خان داود دا کتاب هم د اړ سره تعلق لري . چې په ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوے دے . د صفحو تعداد ئې ۱۲۹ دے . موصوف د انګرېزۍ پروفېسر او څېړنکار وو اکثر کار ئې پراجېکټونو او ادارو سره کړے دے . دا پراجېکټ ئې هم د پښتو اکېډيمۍ ، پېښور پوهنتون او لوک ورثه اسلام اباد په تعاون سره کړے دے . په کتاب کښې ټول ټال اووۀ بابونه دي . دا کار ئې د تحقيق او څېړنې په بنياد کړے دے . ددې تحقيقي کار پوره خلاصه او خاکه ( **synopsis** ) ئې د کتاب په شروع کښې ليکلې ده . چونکې اړ د فولکلور سره تعلق لري ، نو د فولکلور تعريف او تاريخي پس منظر ئې بيان کړے دے . بيا ورپسې د اړونو (**Riddles** ) تعريف ، تاريخ ( ابتداء ، اغاز ) او قسمونه ذکر کړي دي . هغه اړونه چې انساني وجود او مذهبي عقيدې سره تعلق لري ، د خوراک او مېوو دانو سره ، د ځناورو او د فطرت سره ، د کلچر ، او معاشرتي اقدارو سره ، هغه ځنې پاتې اړونه ، چې د هغې په تېرو بابونو کښې ذکر نه دے شوے ، بيان کړي دي . کتابيات ، اشاريه ، نتيجه او د ځنې اهم الفاظو فني، علمي او اصطلاحي ( **Terminologies** ) فرهنګ ، فهرست ، حاشيه او شرح ئې هم ليکلې ده .

ددې کتاب د پاره ئې درې سوه (۳۰۰) اړونه چوڼ کړي دي او بیا ئې د هغې په انګرېزۍ کښې ترجمه کړې ده. دا ترجمه روانه، اسانه او بامحاوره ده. دا صرف ترجمه نه ده بلکې تحقیقي کار هم دے.

"Thus the work is not only a translation but a research too . Hence it will be more exact to term it a research based translation "۱۸

ترجمه: " دا کار صرف ترجمه نه ده بلکې تحقیق هم دے. دلته به دا وئیل بې ځایه نه وي چې دا ترجمه په تحقیق اړانه ده "

د اړ د تاریخ او فولکلور کښې ددې د اهمیت په حقله لیکي

„ Riddle is an important and famous genre of global folklore. Being an interesting creation, it is more popular among the teen agers, especially in children than in elders. Like other genres of folklore riddle too belongs to the prehistoric age. „ ۱۹

ترجمه: " اړ د بین لاقوامي فولکلور یو اهم او مشهور صنف دے. د یو دلچسپ تخلیق نه پرته، دا په زلمو کښې زیات مشهور دے، خاص کر د لویو په نسبت ماشومانو کښې زیات شهرت لري. د فولکلور د نورو اصنافو په شان، اړ هم د ما قبل تاریخ سره تعلق لري. "

لکه د ټپې په شان په اړ کښې هم د پښتون قام ټول اجتماعي ژوند رانغښتے شوے دے. په دې کښې د پښتونولۍ ټول اقدار لکه بهادري، ننګ، غیرت، میلمستیا، حجره، جرګه، ننواتې، د اسلام او خپلې خاورې سره مینه او نور ډېر څه بیان شوي دي. داور خان داؤد د اړ په حقله لیکي

„ A problem or a puzzle in the form of a question, statement etc so formulated that some ingenuity is required to solve or answer it, ۲۰

ترجمه: " یو مسئله یا معمه د سوال یا بیان په شکل کښې، داسې ګرانول، چې د هغې د حل او جواب د پاره د ډېرې هنرمندۍ او حاضرجوابۍ ضرورت وي "

اوس د مثال د پاره یو څو اړونه سره د انګرېزۍ ترجمې چې داور خان داود کړي دي ددې د ترجمې مزه او ذائقه وڅکئ

" تور ورغومے سور ئې کومے (اینځر) black is its pharynx, Red is its belly, (Fig)

کږه وږه په غرۀ ختله ..... ازغے ئې تریخ مېوه خوږه (د شاتو مچۍ)

The crooked was climbing up the hill, its thorn is bitter and the fruit sweet (Honey comb)

په ابۍ لګي په دادا نه لګي (شونډې) **Touch on mama, not on dady** (**Lips**) "۲۱

په کتاب کښې ځنې ځايونو کښې معمولي کمزورۍ شته ګو چې ټول په ټوله به د داور خان داود نه وي لکه د صفحو ترتيب په کښې ګډ وډ شوے دے . د صفحه نمبر ۱۷ نه تر صفحه نمبر ۳۱ پورې په کښې **Doubling** شوے دے .

په صفحه نمبر ۳۱ چې کوم درې اړونه ليک دي په هر يو کښې د" شل " ذکر دے . خو ترجمه ئې په "سل " يعنې **Hundred** سره کړې ده . ددې صفحې په وړومبي اړ کښې د " شل " په ځاے " سل " پکار وو . ولې انګرېزۍ کښې ئې ترجمه صحي ليکلې ده .

په صفحه ۱۱۸ ئې په **Glossary** يعنې فرهنګ کښې د **Eids** تر څنګ د "ذوالحجه " په ځاے " حج اکبر " ليکلے دے .

بهرحال د کتاب مجموعي پېکر او تاثر ډېر ښکلے دے . په ترجمه کښې لکه د اصل غونډې خوند او رنګ پېدا کول ډېر ګران کار دے . خو داورخان داود تر خپله وسه پوره کوشش کړے دے . پکار دي چې دې کار ته مونږ په درنه سترګه وګورو .

**خوشحال او فولکلور** : دا کتاب ئې په کال ۲۰۰۲ء کښې چاپ شوے دے . ټولې صفحې ئې ۲۹۴ دي . کتاب په **Hard Binding** کښې دے او پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون چاپ کړے دے . ډېره زړه موضوع ښخي په نوي انداز کښې پېش کړے شوې ده . خوشحال بابا د نورو ډېرو موضوعاتو سره سره په دې موضوع هم ډېر په فراوانۍ سره په خلاص مټ استعمال کړے دے . ټول کتاب په اتو بابونو ، دوه ضميمو ، خلاصه او کتابيات باندې مشتمل دے . په دې کتاب کښې په فولکلور ډېر ګټه ور بحث شوے دے . د خوشحال بابا ئې د يو فولکلوربست په حېث د هر اړخ نه ښه جاج اغستے دے . د فولکلور په درېو واړو قسمونو ئې په زړۀ پورې ليک کړے دے . په نورو بابونو کښې ئې په وسله ، کالي پترې، جامه پېزار ، د کر کيلې اوزار ، توهمات ، دود دستور ، دارودرمل ، ښکار ، اوسپنه ، سرۀ زر ، سپين زر ، کپړه ، متل ، اړ ، تلميحات او په محاورو ډېر ښکلے ليک کړے دے . دا بره ذکر شوي څېزونه ئې په بېل بېل باب کښې ځاے کړي دي . د معنې او موضوع په حواله ئې د فولکلور درې واړه غټ قسمونه ذکر کړي دي

" ۱: مادي (**NON VERBAL**) يا غېر لفظي فولکلور لکه وسله ، کالي پترې ، جامه پېزار ، اوزار ، سيکې (**COINS**) ، کتبې او نور چې د دهات ، کاڼي ، اوسپنې ، پيتلو ، تانبې ، خاورې ، کپړې يا لرګي نه جوړ کړے شوي وي . د مادي فولکلور تعلق د يو اولس ثقافت سره دے . دې ته علم الانسان (**SOCIAL ANTHROPOLOGY**) هم وائي .

۲ : نیم مادي (SEMI VERBAL) فولکلور یا نیم لفظي فولکلور لکه توهمات ، دود دستور ، نجوم ، فال ، رمل ، جفر ، خوب ، جادو ، ما فوق الفطرت مخلوق ،لوبې ، ګډا ، موسیقي ، نقش و نګار ، ټوټې ، ټوټکې او نور . ددې تعلق د یو قوم تهذیب سره دے .

۳ : غېر مادي (VERBAL) معنوي یا لفظي فولکلور لکه قیصې ، رومانونه، داستانونه ، افسانې ، سندرې ، متل ، اړ ، محاورې او نور . ددې تعلق شفاهي، زباني یا غېر تحریري ادب سره دے ."۲۲

د کتاب د لیکلو محرک او وجه دا ښائي چې کله د پښتو اکېډمۍ رساله "پښتو " کښې په خوشحال نمبر ۲۰۰۱ ء کښې ئې " د خوشحال په شعر کښې فولکلور " مقاله چاپ شوه نو خلقو ئې ډېره ستائنه او ډاډ راکړو . نو په دې وجه ئې په دې موضوع دومره کار وکړو چې دا کتاب ترې جوړ شو . او د پښتو نورو فولکلورپستېانو ته دا مشوره ورکوي چې که په دې موضوع زما نه څه کار پاتې شوے وي چې په هغې نور کار هم وکړي .

څومره چې پښتون قام زوړ دے تاریخي او تهذیبي روایات لري دومره ددوئ فولکلور هم زوړ دے . ددغه فولکلور نه ددوئ د ضابطهٔ حیات (CODE OF LIFE) پته لګي . لکه ددوئ روایات ، عادات ، نفسیات ، کړۀ وړۀ او نور ډېر څه معلومېدے شي . ددوئ د معاشرتي ژوند ټول اقدار په دې کښې خوندي شوي دي .

" فولکلور د ټولو علومو او فنونو مرکز او چینه ده . دا د اثار قدیمه (ARCHAEOLOGY) یوه داسې څانګه ده چې هر هغه څه په کښې شامل دي چې پخوانۍ زمانې سره تعلق لري . په نورو الفاظو کښې دا هغه سائنس دے چې په جدید دور کښې قدیم رسم و رواج او عقائد وغېره ژوندي ساتي "۲۳

څومره چې دا کتاب د ډېرو خوبیو حامل دے او لیکوال تر خپله وسه پوره پوره کوشش کړے دے خو بیا هم په کښې تېر وتنې شته څنې ځایونو کښې د تاریخونو ، څنې د املا ، د شعرونو او چرته ئې حوالې هم نه دي ورکړي .

ددویم باب په شروع کښې ئې د خوشحال بابا تاریخ پېدائش او وفات په صفحه ۴۱ هجري او عیسوي حساب ( ۱۰۲۲ هـ ـ ۱۱۰۰ هـ / ۱۶۱۳ ء ـ ۱۶۹۱ ء ) لیکلی دے .

خو عیسوي حساب زمونږ اکثر محققین ۱۶۱۳ ء / ۱۶۸۹ ء لیکي خو د ۱۶۸۹ ء په حساب سره بیا د خوشحال بابا عمر هغه هومره یعنې ۷۸ کاله نه جوړېږي .

په صفحه ۷۱ د سېد رسول رسا په حواله ليکي چې " خوشحال خان د ديارلسو (۱۳) کالو په عمر کښې تورې ته لاس کړۀ او د پلار سره د جهانګير په جنګ کښې په اول ځل شامل شو . او دا توره د هغۀ د لاس نه هله وغورځېده چې د شپږ اوياؤ کالو په عمر کښې د افريدو په علاقه کښې وفات شو ."۲۴

د " جهانګير" سره خوشحال جنګ نه وو کړے بلکې دا "جهانګيرے" دے . (د کاتب غلطي هم کېدے شي). البته دغه کال ۱۰۳۵ هـ وو . جهانګيرے د اکوړي نه په جنوب اړخ خېر اباد سره نزدې د سيند په غاړه يو کلے دے . دغه وخت د خوشحال عمر ديارلس کاله وو . په دې کښې خوشحال او شهباز خان دواړه زخمي شوي وو . دا جنګ يوسفزو سره د مابنام په خړه کښې شوے وو .په دې کښې شهبازخان زخمي شوے وو چې هم ددغه زخم د لاسه په ۱۰۵۰ هـ کښې په يکم يا پنځم شوال د اختر او جمعې په ورځ وفات شوے وو . په دې اقتباس کښې دوېمه خبره چې خوشحال د " شپږ اويا کالو " په عمر کښې د افريدو په علاقه کښې وفات شوے وو . دغه کالونه شپږ اويا نه بلکې " اتۀ اويا / دوه کم اتيا " کالو په عمر کښې وفات شوے دے . د هجري کال په حساب مونږ سره د " ۱۰۲۲ هـ / ۱۱۰۰ هـ " په حواله قوي شهادتونه شته . په صفحه ۲۹ يو متل داسې ليکي

" که توره د سرو شوه په ګېډه د منډلو نه ده "

دا " توره " نه ده بلکې دې د پاره عام مستعمل لفظ " چاړۀ " ده .

يوه ټپه داسې ليکي

" ټوټې ټوټې په وينو راشې ...... د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مئينه " ص ۹۱

په " وينو " نه په " تورو " راشې .

بل ځاے کښې ئې يو متل داسې ليکلے

" زما د مور باهو چرې به وو " ص ۱۲۲

زما د" نيا " باهو چرې به وو . دا متل داسې دے .

" خوشحال خان باز نامه په شپږو ورځو کښې په کال ۱۰۵۸ هـ کښې وليکله" ص ۱۹۲

باز نامه ئې په کال ۱۰۸۵ هـ کښې ليکلې ده . (د کاتب غلطي ښکاري) .

په صفحه ۲۰۵ ئې د مستشرق کرنل سي ـ اے بائل حواله راغستې ده خو پاورقي حواله ئې نه ده ورکړې .

لکه د نورو کتابونو په شان په دې کتاب کښې هم داود په ډېرو ځايونو کښې خو په صفحه ۲۷۷/۲۷۲ ئې "زيارکړل" په غلطه توګه استعمال کړے دے .نور هم په دې کتاب کښې د املا د غلطيو سره سره ځنې شعرونه غلط ليکلي شوي چې د هغې تفصيل ډېر دے . بهر کيف هر څۀ چې دي خو دا کتاب په نوې موضوع ليکلے شوے دے نو ارزښت او قيمت ئې زيات دے . او ښاغلي ليکوال تر خپله وسه پوره پوره کوشش کړے دے .

**د پښتو د امروزو او محاورو لغت سېلاب** : ددې کتاب محقق او مؤلف هم پروفېسر داور خان داود دے . پښتو ادبي بورډ کښې د ريسرچ افسر په حېث ددې ادارې نه د " تاترې " رسالې د څو ګڼو سره سره دا کار ( لغت ) د يو پراجېکټ په شکل کښې د ډکشنرۍ په شان په الفبائي ترتيب کښې د ( ا ، ب ، پ ، ت ) پورې روزمرې او محاورې راغونډې کړې دي . د هغې معنې ، مفهوم ، وضاحت او حوالې د پاره ئې شعرونه هم ورکړي دي . دا لغت په (HARD BINDING) کښې ۱۲x۸ سائز کښې دے . د ۱۲۲ صفحو دا لغت په کال ۲۰۱۱ ء کښې په نورالله کتوزے پرنټنګ پرېس پېښور کښې چاپ شوے دے . دا د خپل نوعيت يو ځانګړے کار دے . او ددې کار ضرورت او اهميت ډېر وخت نه محسوسېدو .

محاوره هم مونږ ته لکه د غزل په شان د عربۍ نه د فارسۍ په لار پښتو ته راغلې ده . څومره چې د يوې ژبې د متل ، محاورې او امروزې پنګه درنه وي دومره هغه ژبه علمي وي . پښتو کښې دې د پاره مونږ سره متبادل لفظ نشته خو د افغانستان پوهانو ورته د " ګړنې " اصطلاح خوښه کړې ده . داود د امروزې او محاورې تعريف داسې کوي

> " روزمره هغه خبره ، محاوره يا مقوله وي چې د اولس د ژبې د استعمال مطابق وي . کله چې محاوره اصطلاحي يا مجازي معنو کښې استعمال شي نو دا يواځې محاوره وي . روزمره نه وي خو چې په لغوي يا حقيقي معنو کښې پکار راوستے شي نو روزمره او محاوره دواړه وي . په يو لحاظ سره دا دواړه يعنې روزمره او محاوره هم معنې دي . يو دي . په حقيقت کښې محاوره د روزمرې د کل يو جز دے . په دې لحاظ هره محاوره روزمره ده خو هره روزمره محاوره نه ده . محاوره هم روزمره وي خو لفظونه ئې په مجازي معنو کښې استعمال شوي وي "۲۵

محاوره يا امروزه نيمګړې جمله وي چې بلها مطلبونه ترېنه جوتېږي . دا اکثر په " ول " ختمېږي . د محاورې تعلق هم د فولکلور سره دے . ددې ويونکے يا تخليق کؤنکے معلوم نه دے . په دې کښې هم لکه د متل جامعيت او اختصار وي . د يو قام په تهذيب ، تمدن ، دود دستور کښې پوره

لاس لري . دا هم د ټول قام شریک مال او میراث وي . دې د پاره د اصطلاح او مقوله ټکي هم پکارولے شي . په دې کښې د پښتون قام ملي ، اخلاقي ، معاشي او ټول اجتماعي ژوند خوندي شوے دے . لکه د متل په شان ځني محاورې او روزمرې ناشائسته او غېر اخلاقي شته خو دغو کښې هم د ژبې سوچه والے او خوا ږۀ محسوسېږي . داورخان داود مونږ ته د روزمرو او محاورو راغونډولو طریقه او چل هم ښائي لکه

" د پښتو محاورې او امروزې چې د کومو بېلو بېلو ذریعو نه راټولولے کېدے شي . په هغو کښې دا ذریعې د اهمیت جوګه دي :

الف ــ د اولس د امروزه خبرو اترو نه .

ب ــ د کلاسیکي او لرغونو شاعرانو د کلام نه .

ج ــ د اوسنو جدیدو شاعرانو د کلام نه .

د ــ د فولکلوري اصنافو خاص کر ټپو (مصرعو) او متل نه .

ر ــ د پښتو د بېلو بېلو لغتونو نه . "۲۶

محاورې ته په انګرېزۍ کښې **(PHRASE)** او روزمرې ته **(IDIOM)** وئیلے شي . په دې باندې مستشرقینو، په افغانستان کښې محمدګل نوري او آصف صمیم کار کړے دے . په بلوچستان کښې پرې صاحبزاده حمیدالله او سیال کاکړ ، په خېبر پښتونخوا کښې عبدالحلیم اثر ، افضل رضا ، نواز طائر او سلمیٰ شاهین کار کړے دے . چونکې ژبه کښې وخت تېرېدو سره سره بدلون راځي . د سائنس او نوؤ ایجاداتو په وجه نوې نوې محاورې او امروزې جوړې شوي دي او جوړېږي په دې کار کښې داورخان داود سره نورو کسانو هم کومک او امداد کړے دے . نو ځکه په کښې د کمي او غلطۍ ګنجائش ډېر کم دے . او د ډېرو خبرو په کښې پوره خیال ساتلے شوے دے . چا چې ورسره مدد کړے دے د هغوئ مننه او ستائنه ئې کړې ده : " زما دا تکمیل شده **(project)** د یو فرد واحد د کوششونو نتیجه نه ده . بلکې ددې په تکمیل او تشکیل کښې ما سره ګڼو کسانو د زړۀ د اخلاصه ملګرتیا او مرسته کړې ده . که ددوي ما سره دا لاس امداد نه وے نو ما په یواځې ځان دا دروند کار چرې هم سر ته نه شو رسولے . "۲۷

په دې پراجېکټ کښې نور هم د ډېر کار ګنجائش شته . ځکه چې په دې صرف تر (ا ـ ب ـ پ ـ ت) پورې کار شوے دے . حکومت او نورو ادارو ته پکار دي چې په دې پراجېکټ نور کار وکړي ځکه چې دا د یو فرد کار نه دے .

# حواله جات :

۱ : داود ، داورخان ، خوشحال او فولکلور ، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار، فروري ۲۰۰۲ ء، ص ۱۳

۲: Daud , Dawar khan , Prof , An English Translation of some selected Pashto Riddles , M/S Amin Printers Peshawar , ۲۰۰۸ , P ۷

۳ : داود ، داور خان ، پښتو ټپه ،چاپ ځاے نۀ لري ، دوېم اېډيشن ، جولائي ۱۹۸۴ ء ، ص ۱۷

۴: همدغه اثر ، ص ۸

۵: همدغه اثر ، ۱۰

۶: همدغه اثر ، ۱۸۳

۷: همدغه اثر ، ۳

۸ : داود ، داور خان ، پښتو ادب کښې متل ، نيوال عوامي پرنټرز ، اول ځل ، جنوري ۱۹۹۰ ء ، ص ۱۱

۹: همدغه اثر ، ۵۱

۱۰: همدغه اثر ، ص۳۲

۱۱: همدغه اثر، ص ۳۴

۱۲: همدغه اثر ، ص ۴۲

۱۳: داود ، داورخان ، پښتو فولکلور کښې اړ ، جدون پرېس پېښور ، وړومبے ځل ، جولائي ۱۹۹۰ء ، ص ۵۲ ، ۵۳

۱۴: همدغه اثر ، ص ۲۱

۱۵: همدغه اثر ، ص ۱۳۲

۱۶: همدغه اثر ، ص ۱۴

۱۷: همدغه اثر ، ص ۵۳

۱۸: Daud , Dawar khan , Prof , An English Translation of Some Selected Pashto Riddles , M/S Amin Printers Peshawar , ۲۰۰۸ , P ۸

۱۹: همدغه اثر ، ص ۷

۲۰: همدغه اثر ، ص ۲۱

۲۱: همدغه اثر ، ص ۱۰۳،۱۰۲

۲۲: داود ، داورخان ، خوشحال او فولکلور ، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار ، فروري ۲۰۰۲ ، ص ۴۰

۲۳: همدغه اثر ، ص ۲۹

۲۴: همدغه اثر ، ص ۷۱

۲۵: داود ، داورخان ، د پښتوامروزو او محاورو سېلاب ، نورالله کتوزۍ پرنټنګ پرېس پېښور ، ۲۰۱۱ء ، ص ۵،۴

۲۶: همدغه اثر ، ص ۹

۲۷: همدغه اثر ، ص ۱۵